پوهندوی آصف بهاند

د زدکړو حق غوښتنه،
قلملار ټولنه بیا هم د کوچنیانو او ښځو د تعلیم له پاره
نوی کمپاین پیل کړی دی

«راځئ قلم لار کمپاین کې ګډون وکړئ، د خوېندو لپاره د زده کړو غوښتنه وکړو. نور باېد ښوونځي او پوهنتون د نجونو پر مخ خلاص سي.

له مونږ سره په دي کمپاین کې برخه واخلئ،

لاندې هشتګ په کارولو زمونږ سره ګډون وکړئ.»

#PenPathGirlsEduCampaign

قلملار ټولني دا ځل خپل تعلیمي کمپاین داسي موضوع ته وقف کړی دی چې د ټولني د یوه قشر یعني نجونو او مېرمنو د زدکړو او تعلیم پر برخلیک باندې راڅرخي.

قلملار ټولني د افغانستان د تاریخ په دې حساسه مرحله کې چې یو خوا په هېواد کې د ورستیو سیاسي ـ نظامي بدلونونو په پایله کې واک داسې چا ته په لاس ورغلی دی چې هغوی د د ښځمنو له کار او د نجونو

له تعلیم سره د مخالفت مخینه لري؛ له بلې خوا همدا نوي واکداران له کورني او بهرني فشار سره مخ دي چې ښځو ته د کار او نجونو ته د تعلیم حق ورکړل شي او د هغوی حقونه په هراړخیز ډول مراعات شي او درناوی ورته وشي.

په همدې وخت کې قلملار ټولنې د افغانستان د تاریخ په دې حساس پړاو کې، د خپلو پخوانیو تعلیمي هلوځلو په لړ کې د افغانستان د نوي نسل، په تېره د نجونو تعلیم ته په ځانګړې پاملرنې سره، نوی کمپاین راپیل کړی دی او د افغانستان په پېلابېلو ولایتونو کې یې پرمخ بیایي.

په افغانستان کې وروستي سیاسي ـ نظامي بدلونونه او د ښځو د تعلیم په برخه کې د نویو واکدارانو دریځ په لومړي سر کې لکه د دوی د لومړۍ دورې واکدارۍ غوندې، سخت دریځه وښودل شو، خو اوس د افغان روڼ اندو او د نړیوالو د پرلپسې غوښتنو او فشارونو لاندې داسې ښکاري چې د دوی په دریځ او چلن کې هم په مثبت لوري بدلون رامنځته کېدونکی دی.

د نجونو د تعلیم له پاره په ټول کې افغانانو او په ځانګړي ډول قلموالو د پرلپسې لیکنو له لارې، د نجونو د تعلیم غوښتنه وکړه. استاد رناګل اریوبزی چې په خپله د ښوونې روزنې په برخه کې لوړې زدکړې کړې دي او د عمر ډېره برخه یې په کابل پوهنتون کې تدریس کړی دی، د ۲۰۲۱ ام کال د اکتوبر پر ۱۵ مه نېټه د همدې ستونزې په برخه کې د **«د اسلام مبین دین کې د علم مقام ا و ارزښت او په افغانستان کې د اسلامي امارت تعلیمي سیاست»** تر سرلیک لاندې یوه علمي مقاله خپره کړه. د دې مقالې په یوه برخه کې داسې راغلي دي:

«... اوس نو په دې یو څه پوه شوو چې دعلم زده کړه داسلا مبین دین له مخې په هر مسلمان فرض او د د ین او د نیا له پاره مطلق ضرورت دی. په دې پوهیږم چې د فرض نه انکار کفر دی اودعلم له زده کړې نه ډ ډ ه کول لویه ګناه ده او نن سبا خو باید تر ټولو د مخه دا په ډاګه کړو چې دزرګونو مسلمان ماشوما او ځوانانو په مخ د زده کړو یانې دعبادت کولو دروازې تړل په ډاګه داسلام د مقدس دین دبنسټیزو اصولو او دزرګونو مسلمانانو دهیلو او ارزو ګانو سره مخا مخ ټکر او له ګناهونو ډک عمل دی.

دا انسانان، چې په مخ یې اسلامي امارت د دوی د شته ښوونځیو او پوهنځیودروازې تړلې وې اویایې تر اوسه پورې تړلي دي په ژوند کې هیلې او امیدونه لري او غواړې چې د زده کړو له لارې دې هیلو او ار مانونو ته ځان ورسوي او له دوی سره په زرګونو میندې او پلرونه ، خویندې او ورونه په دې هیلو او ارمانونو کې شریک دي. دوی هیچا ته زیان نه رسوي بلکې فرض ادا کوي او په د ین او د نیا کې خپل مشروع هدف ته د ځان رسولو هلې ځلې کوي.

د اسلامي امارت محترم مشران تل ټینګار کوي چې موږ جونو او ښځو ته داسلام په چوکاټ کې دزده کړو او کار اجازه ور کوو، خو موږ دامارت درنو مشرانو پام دې واقعیت ته اړوو چې لوی پرورد ګار (ج) په مسلمانو جونو اوښځو دعلم زده کړه فرض کړې ده او پاس مو هڅه وکړه، تر څو ښکاره کړو چې، دا فرض د هر ډول قید او شرط نه ازاد دی. نو ځکه ، ای د اسلامي امارت محترمو مشرانو، جونه اوښځې داسلام مبین دین په چوکاټ د دې فرض د په ځای کولو له پاره د ستاسې او یا د بل چا اجازې ته هیڅ ضرورت نه لري. په همدې توګه هیڅ مسلمان ته نه ښایي چې دعلم دزده کړې بهیر دخپلو غوښتنو تابع کړي. دعلم زده کړه په په ښځه او نارینه فرض ده او دمسلمان آمر دیني او د نیا وي وجیبه داده چې د زده کړو امکانات پراخ کړي او دهیوا د په ګوټ کوټ کې ځوان نسل زده کړوته وهڅوي، ځکه چې علم هم دین دی او هم دنیا ده، په دین کې سرلوړي دی او په دنیا کې ابا دي او سو کالي دي...»

استاد رناګل په خپل یاده مقاله کې په استدلال سره دا ښوولې ده چې له هرې زاویې نه چې وسنجول شي، تعلیم د هر چا حق دی او د ممانعت له پاره یې هیڅ دلیل موجه نه بریښي.

د نجونو د تعلیم له پاره د افغانانو د هلوځلو په عمومي بهیر کې، د قلملار ټولنې هڅې له پخوا نه ټولو ته مالومې وې، خو اوس یې په ښونځیو او پوهنتونونو کې د دوی د تعلیم له پاره یو نوی او ځانګړی کمپاین روان کړی دی.

د قلملار ټولنې مسؤلینو د خپل تعلیمي کمپاین په لړ کې، د افغانستان په بېلابېلو سیمو کې نه یوازې د وطن له نوي نسل سره، بلکې د هغوی د کورنیو له مشرانو، سپینږیرو او د قومونو له مخورو سره هم کتلي دي، مشورې یې ورسره کړې دي او د هغوی غوښتنو او وړاندیزونو ته یې غوږ ایښی دی او د عملي کولو له پاره یې د خپلو امکاناتو په دایره کې عمل هم کړی دی.

«د خوېندو لپاره د ښوونځیو د خلاصون غوښتنه

قلم لار د سپین ږیرو ، مشرانو ، ملاپانو سره خبرې او کمپاین روان دی.

ترڅو په ګډه یو ږغ پورته کړو چې مونږ دنجونو لپاره ښوونځي او پوهنتون غواړو.

زرګونو خلکو د کمپاین ملاتړ کړیدی او هېله لرو ټول په همدې کمپاین کې ګډون وکړئ همدا هشتګ درسره وکاروئ. » عکسونه: 18 ? 17 ? 16 ? 15

#PenPathGirlsEduCampaign

کندهار سپین بولدک کې د قلم لار دنجونو تعلیمي کمپاین

#penpathVolunteers

#penpatheducationcampaign2021

#PenPathKandahar

https://www.facebook.com/matiullah.wesa

دغه راز قلملار ټولنې د تعلیم دا کمپاین په مډیا کې جاري ساتلی دی او هره ورځ د بېلابېلو پیامونو او عکسونو په خپرولو سره د نجونو د تعلیم غوښتنه تر ټولو پورې رسوي. دا یې د پیامونو او عکسونو څو بېلګې دي:

«علم په نر او ښځه فرض دی،

که غواړو د تل لپاره د جګړې، غربت، تشدد، تعصب څخه خلاص سو؛ نو ېوازېنۍ لاره د زده کړو عامول په نر ښځه علم کول دي.

که غواړو چې زده کړې عامې کړو نو اولېت باېد د خوېندو لپاره د زده کړو زمېنه برابره کړو ترڅو په ټولنه کې نور جهالت ختم سي.

راځئ د خوېندو د زده کړو ږغ پورته کړو ترڅو نور ورته ښوونځې خلاص سي.

زمونږ سره کمپاین کې ګډون وکړئ او خپل شعار د همدې هشتګ سره وکاروئ.»

#PenPathGirlsEduCampaign
#penpatheducationcampaign2021
#penpathVolunteers
#penpathdoor2dooreducampaign

«د خوېندو لپاره د زده کړو ږغ،
راځئ زمونږ سره همدې کمپاین کې برخه واخلئ ترڅو خوېندو ته د ښوونځې او پوهنتون پرانستل سي.
هر څوک دشعار په ډول په کاغذ خپله غوښتنه ولېکئ او د همدې هشتګ سره ټولنېزو رسنېو کې وکاروئ.»

#PenPathGirlsEduCampaign

«صدا برای تعلیم و تربیه خواهران،

بیاید با ما در کمپاین باز کردن دوباره مکاتب و پوهنتون ها برای خواهران شرکت کنید.

همه درخواست خود را بر روی یک کاغذ به عنوان شعار بنویسند و از هشتگ مشابه در شبکه های اجتماعی استفاده کنید.»

#PenPathGirlsEduCampaign



«تاکنون افراد بیشتری به این کمپاین پیوسته اند.

با ما همراه باشید و صدایتان را برای آموزش خواهران بالا ببرید.

از درخواست خود با این هشتگ استفاده کنید.»

#PenPathGirlsEduCampaign

د قلملار ټولنې مسؤلینو که له یوې د ښونځیو د پرانستلو تر څنګ د ټولو کوچنیانو، په تیره د نجونو پر تعلیم ټینګار کړی دی؛ نو له بلې خوا یې تل د ښونکو د تشویق له پاره هم نظري او عملي ګامونه اوچت کړي دي. د ښونکو د تشویق له پاره دا د قلملار ټولنې یو پیام دی:

«د ښوونکې نړېواله ورځ دې ټولو ښوونکو ته مبارک!
خصوصاً هاغه ښوونکې کوم چې لېرو پرتو سیمو د جګړې په وخت کې هم په ډېر جرأت مېړانه درسونه ورکول باید وستاېل سي.

د ښوونکو باید احترام وسي او ورسره مرسته وسي همدا د نړۍ هر څه پرمختګ د ښوونکو د زېار برکت دی.»

#WorldTeachersDay#TeachersDay

د وطن په بېلابېلو سیمو کې د تعلمي کمپاین په ترڅ کې پر نجونو او هلګانو باندې د کتابونو د ویش لړۍ هم د قلملار ټولنې له خوا جاري ساتل شوې ده:

«راځئ قلم لار کمپاین کې ګډون وکړئ د خوېندو لپاره د زده کړو غوښتنه وکړو.

نور باېد ښوونځي او پوهنتون د نجونو پر مخ خلاص سي.

زمونږ سره په دي کمپاین کې برخه واخلئ!

لاندې هشتګ په کارولو زمونږ سره ګډون وکړئ.»

LRI#PenPathGirlsEduCampaignPDI

«لښکر د معارف یو، موږ تیاري رڼا کوو...»

www.dawatmedia24.com